مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سمسور ودان

۲۰۲/۰۹/۱۰

# د رواج زولنې

اوس نو په واړه معنا ممثلین ګرځېدلي یو او دغه هنر مو تر پوخ والي رسولی دی .
هغه ښځینه ده، خپلې اوښکې پټوي، ټوله ورځ پېغورونه زغمي، دردونه تېروي او چې شپه شي؛ سپوږمۍ یې لیدلی حال را رسوي.

زه نر یم؛ خو بیا هم هر وخت موقع پیدا کولو سره له درد څریکي وباسم.

چا ویل چې نر کلک دی؟

زه خو ډېر نرم او له ښیښو هم ژر ماتېدونکی یم.

یو ډول منافقت را ته ښکاري، زه هم خوشحاله نه یم او هغه هم نه ده، مګر زه هم دنیا ته ځان خوشحاله ښیم او هغه هم.

د رواج زولنې ورته ووایم او که د زړونو فاصله یې وګڼم؛ خو اوس مو جدايي ترمنځ یو ثابت اصل (حقیقت) دی. که څومره هم مخ ترې وګرځوم، باید دا زهر ومنم او هره ورځ یې جام ګوټ کړم. دا هر څه ښنګه ختم کړم، څنګه اصلي ژوند او ریښتوني زندګی ته را وګرځم؟ هلته چې نه یوازې زه ښه احساس وکړم؛ بلکې ته هم په ریښتیا سره خوشحاله واوسې.

ایا امکان به ولري؟؟؟




افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ